د افغـــانستان اســـــلامي امـــارت
د مهاجرينو او راستنېدونکو چـــارو وزارت
مالي او اداري معينيت
د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د اطلاعات آمريت

شپږمه ګڼه (غويي) ۱۴۰۳ : شمارششم (ثور) ۱۴۰۳
لومړی مخ - صفحه اول




# اونیزه راستنیدنه
# هفته نامه عــودت

**دغه څوکۍ يو لوی مسؤوليت دی څوک چې په دې څوکۍ کار کوي، د اسلامي امارت د اصولو پر بنسټ آمر نه؛ بلکې يو خدمتګار دی.**

## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال او د مهاجرينو چارو وزارت سرپرست د بغلان ولايت سيلاب ځپلو څخه ليدنه وکړه.



د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال الحاج ملا عبدالغنی برادر او د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست وزير الحاج خليل الرحمن حقانی د بغلان ولايت د مرکز پلخمری ښار د کرکر سيمې د سيلاب له قربانيانو سره وکتل.

دوي د شهيدانو له کورنيو سره خپله خواخوږی څرګنده کړه او زخميانو ته يې د عاجلي شفاء غوښتنه وکړه همدارنګه د سيلابونو له امله زيانمنو شويو ۳۰ کورنيو ته يې خيمي ،کمپلي ،پشه خاني او د جامو کڅوړي وويشلي چې يادې مرستي په بهر کې مېشت د يو افغان له لورې تر سره شوې وې

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست وزير سيلاب ځپلو کورنيو ته ډاډ ورکړ چې اسلامی امارت په هر حالت کې ستاسی تر څنګ ولاړ دی او ان شاء الله ستاسو ټولو ستونزو او مشکلاتو ته رسيدګي کوی .

## توزيع کمک های نقدی برای خانواده های شهدای ناشی از سيلاب در ولايت بغلان آغاز شد

توزيع کمک نقدی برای خانواده های شهدای ناشی از سيلاب در و لسوالی بغلان مرکزی ولايت بغلان، با حضور سرپرست وزارت امور مهاجرين و شماری از مقامات بلند رتبه در آن ولايت توزيع شد.

در جريان مراسم توزيع کمک نقدی سرپرست وزارت امور مهاجرين گفت: اين کمک ها از بودجه امارت اسلامی به ۵۵ خانواده در و لسوالی بغلان مرکزی بوده و برای باز ماندگان هر شهيد مبلغ يک صد هزار افغانی توزيع ميگردد و برای تمامی خانواده های شهدا اين مساعدت توزيع خواهد شد.

## بغلان: د ملګرو ملتونو اړوند د بشري ادارو له استازو سره ناسته ترسره شوه

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزير الحاج خليل الرحمن حقاني د ملګرو ملتونو اړوند بشري ادارو، اوچا، يونسيار، يونيسف، يواين ډي پي او ايف آی او، د شمالي زون له استازو سره د شيخ جلال سيلاب ځپلې سيمه کې وليدل.

په ناسته کې د مهاجرينو چارو وزير د يادو موسساتو له بشري مرستو مننه وکړه او زياته يې کړه ورستيو سيلابونو خلک له يوه ستر ناورين سره مخ کړي، چې بيړنيو بشري مرستو ته زياته اړتيا لري.

نوموړي وويل، د سيلاب ځپلو ستونزو ته د ښه رسيدني په موخه مختلفي کمېټې جوړې شوي، چې هره کمېټه په خپله برخه کې فعاليت کوي، ټول موسسات او خيريه بنسټونه بايد خپل فعاليتونه دوی سره په همغږۍ ترسره کړي، ترڅو ټولو زيانمنو شوو کورنيو ته په موثره توګه رسيدګي وشي.

د ملګرو ملتونو د مرستو همغږۍ اداري، د شمال زون مسؤلي آغلي ماريا پترا وويل: مونږ سره د ملګرو ملتونو ټول مرستندويه کلسترونه راغلي او له سروی او تثبيت وروسته به له سکتوري رياستونو سره په همغږۍ له سيلاب ځپلو سره دوامداره مرستي وکړو.

## معين مسلکی وزارت امور مهاجرين، با اتشه مهاجرين افغان مقيم مشهد ديدار نمود

الحاج مولوی عبدالرحمن راشد، معين مسلکی وزارت امور مهاجرين و عودت کننده گان، با مولوی صديق الله نصرت اتشه امور مهاجرين افغان مقيم مشهد کشور ايران، در دفتر کارش ملاقات نمود.

در اين ملاقات درخصوص و ضعيت مهاجرين و سهولت های رفت و برگشت افغان های مقيم آنکشور که در سال روان عازم حج ميشوند بحث شد.

معين مسلکی وزارت امور مهاجرين بر تداوم همکاری های بيشتر و تسهيل خدمات به مهاجرين افغان تاکيد کرده که از سوی آقای نصرت در مورد اطمينان داده شد.

گفتنی است که صد ها تن از مهاجرين افغان مقيم کشور های همسايه که در پروسه حج از طريق قرعه کشی اين وزارت ثبت نام نموده بودند به زودی از طريق مرکز و ولايات کشور جهت ادای فريضه حج عازم عربستان سعودی گردند.









اونيزه راستنيدنه
هفته نامه عودت

۳۰تن از افغانهای محبوس در پاکستان، از حبس آزاد شدند

## دوه زرواو ۸۵۱ تنه افغان مهاجرينو د پاکستان څخه په جبري توګه راستانه شول

۲۸۵۱ تنه افغان مهاجرين د تورخم او سپين بولدک د فرضي کرښو له لارې هيواد ته راستانه شوي دي.
د کندهار ولايت د سپين بولدک د سرحدي آمريت د معلوماتو له مخې ۳۷۲ کورنۍ، چې ۱۹۳۵ تنه کيږي په جبري توګه له پاکستان څخه راستنې شوې او هلته د مهاجرينو له رياست سره تر ثبت وروسته د نورو مرستو په موخه د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ، د خوړو نړيوال سازمان او د پناغوښتونکو په برخه کې نړيوال سازمان دفترونو ته ور وپېژندل شوې.
د ننګرهار ولايت د تورخم سرحدي آمريت د معلوماتو له مخې ۱۷۳ کورنۍ، چې ۸۸٦ تنه کيږي؛ په جبري توګه له پاکستان څخه راستنې شوې دي. د مهاجرينو له رياست سره تر ثبت وروسته د نورو مرستو په موخه د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ او د مهاجرت نړيوال سازمان دفترونو ته ور وپېژندل شول.
همدا ډول د يادو شويو کورنيو سره د اسلامي امارت له لوري لس لس زره افغانۍ مرسته شوې ده.

## بیش از۲ هزار مهاجر مقیم ایران، طور داو طلب واجباری به وطن برگشت نمودند

دو هزار و ٦۲۱ نفر مهاجر مقیم ایران از طریق مرز اسلام قلعه هرات به وطن عودت کردند.
به اساس معلو مات آمر سرحدی اسلام قلعه، از میان افراد مذکورکه شامل خانواده ها ومجردین بودند، ۳۸۳ نفر ایشان نیازمند شناسایی و غرض دریافت کمک به دفتر سازمان بین المللی مهاجرت معرفی ومواد غذایی وغیر عذایی را دریافت کردند.
۳۳ تن اطفال بی سرپرست به موسسه WARCHILD جهت شناسایی خانواد ها ی شان معرفی، برای ۱۲۳ خانواده مبلغ ۱۰ هزار افغانی، برای ۱۹٦ تن سیمکارت طور رایگان از جانب کمیته های موظف در سرحد توزیع شده است.
و تعداد ۱۹۸ تن از خدمات صحی بهره مند شده اند.

## د مهاجرينو وزارت يو پلاوي بدخشان ولايت ته رسيدلي

د وزارت محترم مقام د لارښوني پر اساس د دغه وزارت بيا ځلي ميشتېدني رياست رئېس مولوي شکرالله شاکر په مشرۍ يو پلاوي بدخشان ولايت ته ليږل شوی.
د پلاوي موخه په ياد ولايت کې د وروستيو سيلابونو په پايله کې درامنځ ته شويوتلفاتودقيق ارقام معلومول، دشهيدانو له کورنيو سره غمرازي، مرسته اوهمکاري ده
ياد پلاوې د بدخشان ولايت له محترم والي محمدايوب خالد سره د ياد ولايت په مقام کې ناسته وکړه
ښاغلي محمدخالد ايوب پلاوې ته ښه راغلاست ووايه او د وزارت له رهبري څخه يې قدرداني وکړه
ورپسې د پلاوې مشر مولوي صاحب شکرالله شاکر د ناستې ګډونوالو ته د وزارت د رهبري پيام وړاندې کړ او د مرستو د توزيع په برخه کې يې لازم تصميمونه ونيول
په ورته ورځ د پلاوي مشر او مل ټيم يې د ياد ولايت په ارګو او درايم ولسواليو کې سيلاب ځپليو او د شهداوو له ورثه ؤ سره د وزارت د محترم مقام په نمايندګۍ غم شريکي وکړه او د وزارت محترم مقام پيام يې د يادو ولسواليو اوسېدونکو ته وړاندې کړ
په پاې کې ۵۵ سيلاب ځپليو کورنيو له هرې کورنۍ سره ۱۰ زره افغانۍ نغدې او يوه اندازه خوراکي توکو مرسته وشوه
همدارنګه د ياد ولايت رياستونو د ريېسانو تر څارنې لاندې ٤ سيلاب ځپلو شهيدانو له هرې کورنۍ سره ۳۰ زره افغانۍ نغدې او خوراکي توکو مرسته وشوه.



## رحمانـي: مرستې به په منظمه او شفافه توګه مستحقو کسانو ته رسيږي

بورتنۍ څرګندونه د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت د مرستو د همغږۍ رئيس شيخ عبدالرحمن رحماني د بغلان ولايت سيلاب ځپلو کورنيو ته د رسيدنې په موخه له همکارو بنسټونو سره په ګډه ناسته کې شريکه کړه.
نوموړي له مستحقو او زيانمن شوو سره په شفافه، ښه او منظمه توګه مرسته د دې ناستې موخه وبلله او د ملي او نړيوالو همکارو بنسټونو له مرستو يې مننه وکړه.
په دې ناسته کې چې د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ، د مهاجرت نړيوال سازمان او د ملګرو ملتونو د بشري مرستو همغږي کوونکي شتون درلود، د بغلان ولايت د سيلاب ځپلو د ستونزو د حل په اړه پکې خبرې وشوې.
د داخلي بې ځايه شويو وضعيت ته د رسيدنې او د دايمي حل لارې د موندلو رياستونو رييسانو د دغې غونډې له ګډونوالو سره په بغلان ولايت کې له سېلاب ځپلو سره د مرستې او خدمتونو و په اړه هر اړخيز معلومات شريک کړل او له زيانمنو شويو خلکو سره يې په بېلابېلو برخو کې د همکارو بنسټونو د لا زياتې مرستې غوښتنه څرګنده کړه.
د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ د دفتر ساحوي رييس ښاغلي کينټ باټو راجر زيانمنو شويو ته د رسيدنې په موخه د خوراکي توکو، روغتيا، د کور وسايلو او نغدي پيسو په برخه کې د همکارۍ په اړه معلومات وړاندې کړل.
نوموړي د هغوی له اداري سره د زيانمنو شويو کسانو د ارقامو شريکول ارزښتناک وبلل او له وزارت سره يې پر لا زياتې همغږۍ او همکارۍ ټينګار وکړ.
د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ د کلستر همغږي کوونکې مېرمن آيلين هم د بغلان، تخار او بدخشان ولايتونو د سېلاب ځپلو د شمېرو په اړه خبرې وکړې او له خپلو ملاتړيو سره يې په ګډه د لا همکارۍ ډاډ څرګند کړ.

## ۳۰تن از افغانهای محبوس در پاکستان، از حبس آزاد شدند

۳۰ نفر از افغانهای محبوس از محابس کشور پاکستان، از قید آزاد و به کشور برگشت نمودند.
به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار افراد یادشده به دلیل نداشتن اسناد قانونی مدت ۳ روز الی ۱۸ ماه را در زندان خیبر پشتو نخواه دربند بودند که پس از رهایی از طریق خط فرضی تورخم به وطن عودت و پس از ثبت درآن آمریت غرض کمک به سازمان بین المللی مهاجرت و کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان معرفی شدند.

